## مطبوعاتي اعلاميه

# په لوېديځه پوله کې پر امنيتي ځواکونو د بريدونو د شدت دليل، د امريکا په امر د ځواکونو ځای پر ځای کول دي

## يوازې خلافت د قبايلو امنيتي جوړښت بيارغولی شي

په قبايلي سيمو کې د پاکستان پر وسلوالو ځواکونو له زوروړو بريدونو وروسته، د پاکستان حکومت ډېری پلاوي له کومې بريا پرته له کابله راستانه شول. د پولې پورې غاړې ځينو بريدونه، په قبايلي سيمو کې عملياتو او په افغانستان کې دننه د نورو بريدونو له گواښونو سره سره؛ دا مسله لکه په تاريخ کې چې د برېتانيې، روسيې او امريکا لپاره و؛ د مناقشې لوی هډوکی دی.

د پاکستان او افغانستان د پولې دواړو غاړو ته پرتې قبايلي سيمې، د ځمکې پر مخ تر ټولو لويې قبايلي سيمې دي. پر شلو سترو عملياتو، سلگونه استخباراتي عملياتو او د قبايلي جنگياليو د "ملا ماتولو" په لسگونو هڅو سربېره؛ وضعيت نور هم پسې خراب شوی. زموږ قبايلي خلک او عسکر هره ورځ وژل کېږي. د دولت په کچه هېڅوک د دغې مسلې لپاره دايمي حل نه لري. د قبايلو اوسنۍ پاليسي د امريکا پر لارښوونو ولاړه او زموږ له واقعيتونو سره په ټکر کې ده. دغو قبايلو يوازې اسلام او د اسلام حاکميت، خلافت ته سر ټيټ کړی. يوازې خلافت کولی شي په قبايلي سيمو کې پر امنيت راوستلو سربېره، دغه خلک د اسلام لپاره پر يوه پياوړي ځواک بدل کړي!

قبايلي سيمو درېيو زبرځواکونو ته په ماتې ورکولو سره، له خپلې خپلواکۍ سخته دفاع کړې. هر کله چې يو بهرنی ځواک دلته راځي، قبايلي خلک يې پر وړاندې جنگېږي. قبايلي سيمو ته د پاکستان د وسلهوالو ځواکونو له ننوتلو سره، جگړه شديده شوه؛ ځکه چې مشرف دا کار د واشنگټن د عملياتو او امريکايي صليبي جگړې لپاره د ډالرو په بدل کې وکړ؛ د پاکستان پوځي رهبرۍ عملاً زموږ پوځ د امريکا د پوځ په همکار بدل کړ. له دې سره زموږ د دوو ډېرو پياوړي ستنو؛ وسله والو ځواکونو او قبايلي جنگياليو ترمنځ د جگړې اور بل شو. کله چې وسله وال ځواکونه او قبايلي جنگيالي د اسلامي احساساتو له مخې سره متحد وو؛ ازاد کشمير يې د هندوانو له اشغال څخه خلاص کړ. دغه راز يې زبرځواک، شوروي اتحاد په گونډو کړ.

د پاکستان پوځ اوس د امريکا د پاليسۍ له مخې پر افغان طالبانو فشار راوړي او د ډېورنډ کرښې تړلو له لارې د هغوی د نفوذ مخه نيسي. د پوځ رهبري په قبايلي سيمو کې اغزن سيم کشولو، د پوستو استحکام او پوځي

کنډکونو پر جوړولو بوخت دي. په قبايلي سيمو کې ستر پوځي او استخباراتي بېخبنسټ جوړ شوی، چې قبايل يې نه مني. د ډيورنډ کرښې ترلو د قبايلو اقتصاد زيانمن کړی؛ دغه راز يې د دواړو خواوو اوسېدونکو ترمنځ اسلامي او کورنۍ اړيکې پرې کړې. افغانستان او د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته پراته قبايل د دغې کرښې له ترلو سره کلک مخالفت کوي.

په خيبر پښتونخوا ايالت پورې د قبايلي سيمو تړل هم د امريکا د پروژې يوه برخه ده. امريکا ادعا کوي چې خلک د بېوزلۍ له امله جهاد کوي. دوی وايي چې په لسو کلونو کې د زر بېليونو روپيو پانگونه به د "پرمختگ" لامل شي او خلک به جهاد پرېږدي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې دغه امريکايي پاليسۍ په افغانستان کې ناکامې شوې او دوی له افغانستانه وتلو ته اړ شوي. د امريکا ټوله دنده، پلان او تگلاره د اوږدمهال لپاره له اور سره لوبې کول دي. دوی غواړي چې د مسلمانانو ترمنځ اور ته لمن ووهي. امريکا غواړي چې پاکستان په اوږده خو لږ شدت لرونکې جگړه (LIC) کمزوری کړي او له دې سره له هند څخه د سيمې پوليس جوړ کړي. څوک شته چې د دښمن په دغه فرېب او چل يې سر خلاص شي!؟

دغو قبايلو د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم له وخته په خپله خوښه اسلام منلی. دوی د اسلام ځواک وگرځېدل. په خپله خوښه يې د الله سبحانه وتعالی په لار کې خپل ژوند قربان کړ. له پېړيو راهيسې يې په دوامداره توگه د اسلام له دښمنانو هديرې ډکې کړي. نو ولې له دغو قبايلو سره په يوه اسلامي سياسي ابتکار، چې له اسلام اباد څخه د خلافت پيل دی، له دغو قبايلو سره چلند نه کېږي؟ خلافت به د امريکا د اوامرو زيانونه بېرته جبران او برعکس کړي. اسلام به دغه قبايل او پوځ سره متحد او د دواړو ترمنځ جگړه به ختمه کړي.

د نبوت پر منهج خلافت به د ډيورنډ کرښه رنگه کړي. له خلافت سره د افغانستان او مرکزي اسيا په يوځای کېدو به د هندو دولت هيلې د سترگو په رپ کې له خاورو سره خاورې شي. نو د اسلام له نظره د دې ستونزې حل په وزيرستان، باجوړ، ژوب او ملاکنډ کې نه، بلکې په اسلام اباد کې دی.

**نو اې د پاکستان وسله والو ځواکونو!** د مسلمانانو تر منځ د فتنې دغه جگړه بس کړئ. د امريکايي پروژې د سونگ توکي مه کېږئ. حزب التحرير ته د نبوت پر منهج د خلافت د بيا تاسيس لپاره نصرت ورکړئ. هغه وخت به د قبايلي سيمو په گډون د پاکستان او افغانستان خاورې د يوه واحد خلافت تر سيوري لاندې د ټولې اسلامي نړۍ د يووالي لپاره پياوړی پلټ فارم وي.

**[وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ]**

**ژباړه:** *«الله تعالی پر خپل کار غالب دی، خو ډېر خلک نه پوهېږي.»* [یوسف: ۲۱]

د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د محرم ۲۲مه

**۲۰۲م کال، د اگست ۹مه**

**د صدور گڼه: ۰۴/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: فریدون محتاط**